


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب ځانګړنې

کتاب نوم: خــــوږ درد

لیکوال: رضــوان الله نیازی
تــلفون: ۰۰۹۸۹۱۷۴۵۰۸۴۵۵
ډیزاین: شــرافت نیازی
کمپــوز: حسیب الرحمن
پښتې: الفـــت صافی
کـــال: ۱۴۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ



## مننه او کورودانی

مننه له ډاکتر ناظم «نیازی» انجینر یاسر «حمیدیار» څخه

خاص کورودانی له علی «صافی »او شاه جهان نیازی څخه چې زه یې

د شاعرۍ په ډګر کې ډېر هڅه ولی یم

له ګران ورور عرفان نیازی څخه چې د کتاب ملاتړ یې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خــــوږ درد ځــو خبرې

د دردمنو احساساتو شاعر رضوان نیازی په دې ټولګه کې د زړه هغه نغارې وهې چې د هر مېین انسان درد راوېښوي د ده شاعري د رښتیني مېین د ژوند نه راټوکېدلې ده داسې ژوند چې په هره کرښه کې یې د یو دردمن مېین د درد سیوری پروت دی

رضوان د دردمن ژوند له سختو ځپو سره لاس او ګرېوان پاتې شوی او همدا تریخې تجربې یې په شعر کې د اوښکو په څېر رڼې او رښتینې انځور کړې دي د ده کلام سختوالی نه لري د زړه له تل نه راپورته شوی آه دی چې کله د مینې په نوم کله د بېلتون په نوم او کله د وطن د درد په نوم غږېږي.

د دې ټولګې هر بیت د یوې ماتې خاطرې کیسه ده لوستونکی داسې احساسوي لکه د یو غلي ماښام په چوپتیا کې چې د شاعر له زړه سره ناست وي او د هغه نه ویل شوي دردونه اوري د رضوان نیازی شاعري غمجنه ده خو دا غم کمزوري نه بلکې د ژور احساس وفادارۍ او انسانیت نښه ده

زه باور لرم چې د ده دا ساده خو دردناکه ژبه به د شعر مینه‌وال د فکر او احساس نوې نړۍ ته بوځي او د پښتو ادب په ډګر کې به د یوې رښتینې او دردمنې شاعرۍ په توګه خپل ځانګړی ځای ومومي.

درنښت

سیلاب نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څه خواږه خواږه یاران دې رانه بیل کړه
غـریـبـۍ قسم په خدای که دې ښنمه

چـېـرتـه تللې یـې خفه یې رانه ولې
خـوشحالې قسم په خدای که دې ښنمه

د غـرڅـې غوندې تیرېږئ څه په منډه
یه ځـوانـۍ قسم په خدای که دې ښنمه

د جنت په شان وطن دې په ما پرېښود
مـزدورۍ قسم په خدای که دې ښنمه

له مسجـد دې میخانې ته ورروان کړم
عـاشـقـۍ قسم په خدای که دې ښنمه

چې واده شـوې بیا پوښتنه دې ونه کړه
لـیـونـۍ قسم په خدای که دې ښنمه

له رضـوانـه دې نور لاړ ده ورکه کړې
شـاعـرۍ قسم په خدای که دې ښنمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ځنګه چې زه پسې برباد یمه رضوانه
چېرته زه به ورته یاد یمه رضوانه
خدایه ستا دغه بنده زما نصیب که
بې له ده به کله ښاد یمه رضوانه
زه به ډېرو دله ګانو وم خوړلای
مور دعا ده چې اباد یمه رضوانه
یو ستا نوم په لاس لیکلی شم دلبره
نور خو ښه پوخ بیسواد یمه رضوانه
ټک وهلی یم جانان د زړه په سر
زړه په سر لکه فولاد یمه رضوانه
خلکو مړ نه یم ژوندی یم تر ابده
فدایي زه د جهاد یمه رضوانه
شاعري زه د قام ولس لپاره کړمه
دمظلوم دخولې فریاد یمه رضوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ورځی نه وي خو په شپه کـــې راسره
د چا یاد دی په سینه کـــــې راسره
نیمایي عمر مې تاباندې برباد کړو
نیمی نور ده میکــــــــده کې راسره
زهر خورمه چې بیغمه شم هــغې نه
نه هیریږي په نشه کـــــــې راسره
ځنکدن کې چې پوښتنې ته رانغلو
پرۍ يې نـــږدې جنازه کې راسره
ځمکه نه چاودي چې روغ ورننوځم
پلار يې ولیدلـــه روژه کې راسره
پلار مې ویلې ته غم مه کوه رضوانه
خیر راضي به شي جرګه کـــې راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ګډه شـــــــــوې د باران په هوا ته يې
په هر څه مې داسې خيال وي چې دا ته يې

بل څوك نشته چې په سترګو مې لاس کيدي
دا دی ومــــــــــې پيږندلې ها ها ته يې

په جنت کې به د شيخ خوراك مڼې وي
په جنت کې به خوش رنګې زما ته يې

په خوله باندې مکرجن تبسم زه يم
او په سترګو کې مې غلې ژړا ته يې

له تا پرته مې د هر خلك کړل خبر چې
په ايران کـــــې زما يو تنها ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

یاره چېرته یې ته راشه چې دې واخلم
د پیسو مې انتها ده او ته نه یې
په غربت کې چې تا لاړ وه جدا کړې
نن مې ښه ډېره دنیا ده او ته نه یې
اوس چې دغومره مالدار یمه مورجانې
برکت ستا د دعا ده او ته نه یې
دوه مې ښځې اوپنځلس مې بچیان دي
دریم واده مې هم سبا ده او ته نه یې
د خپلوانو مې حساب راڅخه هیر دی
حجره ډکه له هر چا ده او ته نه یې
اجازه راکړه چې ورشمه ګودر ته
انتظار راته لیلا ده او ته نه یې
وزیره ګیلامنه ای د قوم په ننګ شهیده
خبر یې لراوبر یو پښتون نخواده اوته نه یې
راغلې دې د قبر سر ته ناسته ده رضوانه
مورسره دې لور هم په ژړا ده اوته نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه به دومره پیسې وکړم لخیره
پردي څه چې به خپلوان راپسې غاپي

زه چې کله جانان ونیسم له لاسه
بیا په لاره رقیبان راپسې غاپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چــې زه درنه ديدن غواړمه ماته کړې بهانې
رقيب ته يـــــې ولاړه هره ورځ د بام په سر

رباب مې خرسومه کاتکي ټوپك پرې اخلم
رقيب او جـــــانان ولمه جوړه په دا ټټر

رضوانــه يارانو کې خومو هيڅ ګټه ونکړه
ياران راټولومه ځو ډېر لرې په چـــکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

که ژوند راسره لږ غوندې وفا وکړه لالیه
وعده که تا له ما سره رېښتیا وکړه لالیه

چشمانو ته راوړمه ستا رانجه له کوه قافه
که یوځل دې په مړو سترګو خندا وکړه لالیه

جیګه نرۍ پزه یې ده غټې غټې سترګې
ریبارراته کیسه دې شپې ستاوکړه لالیه

شونډې په شو نډو راته کېښودې پرون
روژه کې یې په ما غټه ګناه وکړه لالیه

ربه لیونۍ یې کړی زما د زوی په شان
مورمې په لمانځه درته ښیراوکړه لالیه

په نیمه لار دې پرېښودلو یاره مطلبي
رضوان سره دی ډېره ناروا وکړه لالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دغسې که هاغسې که ږنګ دی او کـــــه بنګ دی
زما خوخ دی جانان مې خیر که تور دی غنمرنګ دی

که چا هم چــــــېرته ولیده خبر یې ماته راکـــړۍ
غټې غټې سترګـــــې د چنار په شانـــتې دنګ دی

رضوان که مشهور دی ښه لوفر په ټول کـلــــــي
اخلاقو نه بادشاه دی او په خوی باندې ملنګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

واده ده او ساقی شرابان مفته ورکـــوي
جامونه رنګارنګ ورکول کېــــږي ميخانه کــې

يو ځوان په کې د خپلو ارمانو جنازه و کـــــــړه
يو ځوان له ډېره درده نن ګډېګي ميخانه كـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

موږ دې تباه کړلو تباه شې غریبۍ وخ آی
ای د نامردوبــې غیرتو احتیاجۍ وخ آی

خلك چکر ته ځي میلې کوي ساعت تېروي
درته حیران شوم تش جیبه مفلصۍ وخ آی

د خدای خدایي منم بیشکه دی پاچا د جهان
رب مـو دې ساتي د بنده له بندګۍ وخ آی

قربان قربان به یې کول تهول بې وفا وښتل
لعنت لعنت او بیا لعنت په دې یاری وخ آی

د خوشحالي خپلوان زخت زیاد دي د خفګان په شمار
کاکا مـامـا عمه خـاله او ورورولـــــۍ وخ آی

بس ددی ژوند نه نور بیخي رضوانه تنګ راغلمه
کـاشکې حلاله وی نشه یا خودکـــشــۍ وخ آی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

دې لـــر او بر پښتنو پورته شی لاریون وکړی
مړه ضمیرونه مو راویخ کړی لږ غبرګون وکړی

په سیاست نه کېږی نه چا په سیاست ګټلې
په سوال زاریو او نه چا په سهولت ګټلې

ازادي غواړي سرښندنه او غیرت پښتینه
امان الله غازی په شانتې لوړ همت پښتینه

په میاو میاو نه کېږی زمري غوندې غړمبار شروع کړی
وسلې راواخلی پــــه پنجاب باندې بمبار شـــروع کړی

نوم او نشان یې دنقشې نه ورکول په کار دي
د ګلخانانو هـــم له دوی سره وژل په کار دي

رضوانه کله بـــــــه اباد وزیرستانووینم
چې لر او بـر نه وی ازاد پښتونستان ووینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

گودر نه راغله په ژړا اخ خی
ویلې خبر مـې شو للااخ خی

په ژړغوني غـږ جانان وویل
جرګه راولیګه سبا اخ خی

هغه چې ما ورته ورکړې تحفه
جوړه اغوستې یـې نن بیا اخ خی

مور مې ویل هغه جنۍ درته کوم
هغه جنۍ چـــې خوښه ستا اخ خی

که دمنصور غوندې په دار شمه
بیا به هم ویمه چـې لیلا اخ خی

نه ورور وژنه وی او نه جنګونه
په اتفاق وی پښـــــتونخوا اخ خی

زه بـــه دا ستا د پښو خاورې شمه
رضوان ته وکړه موری دعا اخ خی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

تکلیفونه راکوه حساب یې نیسه
خیر دی اوس مې ځوروه حساب یې نیسه
واده شوې لیلا بیا مخې ته راغله
بیا یې غم کړه راتازه حساب یې نیسه
ای رقیبه جانان تاته مې در پرېښود
اوس یې ته ونازوه حساب یې نیسه
ګناهونه خو دې ډېر دنیا کې وکړل
رب ته ورغلې بنده حساب یې نیسه
تا ویلي وو چې راشه دیدن وکړه
بیا دروغ ده ستا وعده حساب یې نیسه
کال پوره دې شو رضوانه خو رانغلې
مسافرۍ دې ده اوږده حساب یـــې نیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

د مرګ په اخطارو به رقیبانو یرولم
ګیله مې په یو شعر کې له خپل یاره کړې وه
زماهم دې منصور غوندې هیڅ ترس زړه کې نه وو
د لر او بر نعره چــــــې مـــې تر داره کړې وه
نو ولې دسمال ورکه دې کاکا زوی ته واده شوه
وعده خـــو تا لـــه ما سره ریباره کړې وه
په کومو سترګو ځوانه ته به خدای ته ودرېږې
زنا چـــې تا دنیا کې ښه بې شماره کړې وه
په غاړه چـــې پرته ده ستا ځلور کونجه دنیا
په قبر کـــــې دې څه بهانه مالداره کړې وه
بچیه تعلیم وکړه دوطن په ننګ شهید شه
دغه خبره مــــاته مې خپل پلار کړې وه
بنګ سګرټ نصوار په ما تاثیر ونکړو رضوانه
نشو ته مــــــې شروع چې د کوکناره کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه مې دغه خپله ملنګي پيره
نه ورکوم ستا پر بادشاهي پيره
چرته که مې دعا د مور قبوله شوه
ته به بيا کوې زما غلامي پيره
چا چې پــــه تنګسه کی زه پريخی وم
معاف مې دې کړي بيا دې نه راځي پيره
ګرځي بې پروا چې په جهانه کې
دا عادت مې خوښ دې ليوني پيره
ټولې يارانې اوس دې مطلب شوې
مرګه راشه تېر له زندګۍ پيره
عشق د مجنون او د ليلا منم
دروغ د نن سبا دا عاشقي پيره
چا مې که جانان ته پورته وکتل
وژنمه يې ټول خانه دانی پيره
يو ځای مو زهر وخوړل رضوانه نن
منځ کې مــــو راتلله جدايي پيره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نــن يې بيخي خراب کړم
ای زندګي خراب کړم
نن د ساقي ميلمه وم
جام خوماري خراب کړم
د ځان نه ډېر خوږ راته
يــار مطلبي خراب کړم
ښــې ورځې رانغللې
کرښو دې تندي خراب کړم
بيګاه رضوانه د شپې
يـــو سګرټي خراب کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

دیارانو دوکو ډېــــــر کړمه هوښیار زه
نور نو بس ده مجبور بیله کړم ترې لار زه

نن چې زه په خپلو وینو کې لت پت یم
وخت به راشي خیژوم به دې په دار زه

د ادې ټول ارمانونه بــــــــه پوره کړم
چیرته خدایﷻ که کړم یو واری لږ مالدار زه

پــــه وړو وړو نشو هیڅ نه هیریږي
بنګ نشې شروع کوم به کوکنار زه

د رضوان زړه چې دې مات لکه شیشه کړه
که په لاس راغلې نو کړم به دې سنګسار زه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ځان ته حیران یم چې دا څه کومه څه کومه
هر ډول پیښې مې په خپله په خپل زړه کومه

غرقه نشه ساقي خانه او د شرابو بوتل
لاړ کې روان یم مسخرې په ژوندانه کومه

ته یا قربان وکړه ساقي قسم په خدای یو ځل
زه تـــــــــر سهار درته کینمه ټپې زه کومه

شپه مې شبګیر کړله تصویر سره خبرې کوم
ورته کیسې د بــــــــــې وفا د بیلتانه کومه

رضوانه زړه راته بیګاه په ژړغوني غږ ویل
نوره توبه ده مینه نه کومه نه کومه نه کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

غم او درد د غريبـــۍ ژوند او ژړا ته
کاشکې هيڅ نه وی راغلی زه دنيا ته
زما هـــــم نوې ځــــواني نري بريتونه
خو په يوه سترګك يې پورته کړم هوا ته
د مات شوي زړه تاوان له چانه واخلم
زړه مې وسپارمــــه بيا کومې بلا ته
يو جدا شوې بل دی تور راباندې کېښود
زه نو وژاړمه ســـتـــا کومې نـــاروا ته
ته نو زما د حاله څـــه خبر يــــې ياره
خدای دې مه مجبوروه د غم خندا ته
إن شاء الله زه به پـاچا شمه دې زړونه
ضرورت لرم دې مــــــور يوې دعا ته
وفا نه ده پاتې هيچا کې قــسم ده
رضــــوان ووايم د زړه رازونه چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پرېږده چې ښه وځورېږو مونږ نو د چا څه کېږو
خلك د دنيا دي مړه مونږ د دنيا څه کېږو

خدايه مونږ غريب خلك قيامت کې چېرته هېر نه کړې
دلته هم خانان هوسا دي مونږ دهــــــوسا څه کېږو

شپې دې يو ظالم له قبره ډېرې چيغې راغلې
ده به په دنيا کـــــې ويلې مونږ د الله ﷻ څه کېږو

ټول ياران مې وايي راته ډېر بــې وفا شوی يې
تاسې وفادار ښه يې يار مونږ د وفا څه کېږو

مور مې راته وايي هر وخت رب دې کړه پاچا رضوانه
موری ستا دعا پکار ده مونـــــږ د پاچا څه کېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

څه بیغیرته عاشقي وه پریخې مې ده
د ایزیلوډ انډیوالي وه پریخې مې ده

د بې وفا خلکو یاری وه پریخې مې ده
د بنده ګانو بندګی وه پریخې مې ده

دغه د نن بدماشان ټوله ویریدل به له ما
زما یو وختی لوفري وه پریخې مې ده

زما دې سر قاتلان ټول زما یاران وو صیبه
ای دې نامردو اشنایي وه پریخې مې ده

رضوان وی دا خبر زما هغې ته ورسوی
دا ستا یاری خو بازاری وه پریخې مې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

مونږ د یو بل نه بغیر داسې ګوزاره شروع کړه
هغه وادۀ شوله اومـــا واپس نشه شروع کړه

چا رانه سوال د بربادۍ وکړو چــــې څه ته وایې
ما لږ شان سوچ وکړو او بیا مې ستا قیصه شروع کړه

اول وه شوخه شوخه بـیـــــآ ترې شیخه جوړه شوله
چې ئې په ځان مئین کړم مـــا نه یې پرده شروع کړه

دا چې مــــــا ولیده له ژوند او ځواکه اووتمه
ما نور کارونه پرېښول ما د هغې ننداره شروع کړه

چا چې بلاك کړی وم چـــې قرض رانه اونه غواړي
اوس چې لږ ښه شوم نو واپس یې رابطه شروع کړه

چې ستا د سترګو اشارو مې زړه مایله نۀ کړو
بیا دې ښو یاره زما پـــه زړه حمله شروع کړه

دا میکدې سندرې جام او ګیلاس پرېږده راځه
نفلې روژې ذکر و اذکار مونځ وغیره شروع کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بل په سينه کې يې دی اور ليونی کړی دی
ستا د ناکامې مينې زور ليونی کړی دی

په هغه ځـوان باندې نشو هيڅ تاثير ونکړلو
ای جينۍ ستا يوه پيغور ليونی کړی دی

وايي ولاکه مـې بيغم بيغمه خوب ته پريدي
ليونۍ ستا د بنګړو شور ليونی کړی دی

مور يې خيرۍ ورته بلا بلا بلا وکړلې
چا چې زما د زړه ټکور ليونی کړی دی

مسافري ته شو روان بچيان ژاړي ورپسې
د خپل او پردی بې شميره پور ليونی کړی دی

د ورځې کار کـړي مزدورۍ رزق حلال ګټي
دشپې سوچونو د خپل کور ليونی کړی دی

خفه به ولې نه وي او خفګان به ولې نه کوي
چې ستا دمستو سترګو تور ليونی کړی دی

مينه خپلوي او ملګرتيا ټول خرسيږي اوس
رضوان ددوه وو ورځو ورور ليونی کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

قسمت کې به همداسې وو خفګان د څه لپاره
چې نه کېږي بيا نـــــه کېږي ارمان د څه لپاره

هېڅ خوند د يارانې نشته پـــــــه زوره يې کومه
چې شونډې په کې ښکل نه کړې جانان د څه لپاره

دهر چا په غمونو کې مـــــې ځان وو خپل هېر کړی
چې سخته کې په درد نه خوري خپلوان د څه لپاره

په ژوند خو هېڅ باور نشته نن يو سبا به نه يو
نو ولې بيا غرور کړې په خپل ځان د څه لپاره

چې نه کوې مينه مه کوه د زور خبر خو نه ده
رضوان ته نو په شا کـــتـــل قربان د څه لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ارمان يې په رضوان پسې ارمان پاتې شوی
یو درد يې په سینه بې درمـان پاتې شوی

بلها زړونه يې مات کړل د بلها زړونو قاتل شو
خـــــو ستا زورور حسن ته حیران پاتې شوی

په کلی کې مشهور چې په لوفر او په بدمعاش وو
هــغــــــه ځوان لیـونی په بیـابان پاتې شوی

د هرچا په غمو کې به اول صف کې ولاړ وو
اوس سخته کی تنها او پریشـان پاتې شوی

سر ښکته يې راځوړند کړ ستا د کلي رقیبانو
رضوان ورته بــــې جوابه بې زبان پاتې شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

دې دنیا لـــه خامو خامو رابطو
زړه مې شین دی له تمامو رابطو

دلته هرڅوك تر مطلبه درسره وي
ما ځان وخوړ پـــه ناکامو رابطو

نفرتونه د غیرت په معنی بولي
مینه نوم شو د بـــدنامو رابطو

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

غــــم او درد د غريبۍ ژوند او ژړا ته
کاشکې هېڅ نه وی راغلی زه دنيا ته
زمــــــــاهم نوی ځواني نري بريتونه
خو په يوه سترګك يې پورته کړم هوا ته
د مات شوي زړه تاوان له چانه واخلم
زړه مـــــې وسپارمه بيا کومې بلا ته
يو جدا شوې بل دې تور راباندې کېښود
زه نـــــــــو وژاړم ستا کومې ناروا ته
ته نو زمـــــــــا د حاله څه خبر يې ياره
خدای دې مه مجبوروه د غم خندا ته
إن شاء الله زه به پاچا شمه دې زړونو
ضرورت لـــــرم د مور يوې دعا ته
وفا نه ده پاتې هيچا کې قسم دی
رضوان ووايـــــم د زړه رازونه چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ولې مې وژنې ګناهګارې سترګې مه راړوه
لیونی کېږمه خومارې سترګې مــــه راړوه

همداسې پټې سترګې ودریګه خبری کـــــوه
صنمه جار شمه هوښیارې سترګې مه راړوه

ګوزار دغشې غوندې زما په زړګې ولګیږې
ظالمې مه کوه خونکارې سترګې مه راړوه

ستاسترګې تېزې دې د بنګو کوکنارو نه هم
زه نشه کېږمه ای یــاری سترګې مه راړوه

د خوب محرومه کړمه ستا زنګیدلو سترګو
ناقراری مې ستا قــرارې سترګې مه راړوه

رضوان ته وخانده دلبره بچای تېټ به ګوري
دغه رنجو باندی سینګارې سترګې مه راړوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مــړه خپــل ژونــد کــوه جــانــان لا پــه کې څـه ته وايی
شنې سترګې سرې شونډې پيزوان لا پـه کې څه ته وايي

شبګيرې شپې يــاد دهغې او تــر ســهاره ويخ ناست
کـاږه بانړه پسته څنګل ښامار زلفان لا پـه کې څه ته وايي

نــرۍ مـــلا قـــد چــيـــنـــاري او انـــاري اننګي
ګـيبي پرتـوګ جيـګ سيـنډلان لا په کې څه ته وايي

شړنګ د پانزيب پـيروی مخ زنې په سر يې شين خال
رضـــوانـــه پـرې يې ږده لـبان لا پـه کې څه ته وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

راوګرځه د نوي ژوند احساس راکړه قربان
لویدلی یم درپورته مې کړه لاس راکړه قربان

ناهیلی د اشنا لـــــه دره راغلمه واپس
ساقي ګوره ښه نه یمه ګلاس راکړه قربان

که شونډې راته نه راکوې مــــه یې راکوه
دا غیږه خو بیا لږه په اخلاص راکړه قربان

خاونده!دغه نور خلك په خپل منځ کې تقسیم کړه
دا یو نفر زما لپاره خـــــــــاص راکړه قربان

په خیال کې مې درونغاړه غزل مې کړه دې مینې
رضوانه د لفظونو نـــــــــــه لباس راکړه قربان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نن مې خپل جانان د بل په غیږ کې ولید
نن زه پوه شومه چې شرك غټه ګناه ده

زه نه مړ یم نه ویخ یم نه ویده یــــــم
فلج شوی یم چی یار رانه جدا ده

د زړه کور مې د غمونو هدیره شوه
چې خبر شومه واده یې نن بیګا ده

هغه دنګ چنار بغل کې هغه کور کې
غږ مې واورید د یتیم غریب ژړا ده

کوندې مور یې د زړه درد نه ورته وویل
زویه غلې دنیا ډېره بې وفا ده

څه د لر او بر کیسې مو شروع کړي
مړه هېڅ نشته دا ټوله پښتونخوا ده

له لغمانه تر کابل او قندهاره
یو مو ژبه یو امیر یو مو وینا ده

په چهره باندې بدرنګه ده رضوانه
خو په زړه باندې شیشه غوندې صفا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

څه بربادې ورځې شپې دي انديواله
شبګيرې دي شبګيرې دي انديواله
نن يې بيا په انتظار کې شپه سبا شوه
څه بې شميره يې دوکې دي انديواله
ولې رانغلې ای ولې ولې ولې
دمظلوم زړه مې ګيلې دي انديواله
په رښتيا رښتيا صفا صفا ويلو
لاس کی زما اوس زولنې دي انديواله
په اور وسوزل ايرې ايرې ايرې شول
دا چيغارې د غزی دي انديواله
که خدای راوستل وختونه بيا به ګورو
خير که نن ستا بهانې دي انديواله
زه خو ستا د سيالۍ نه يمه جانانه
زما خيمه ستا خو بنګلې دي انديواله
نور به مينه نه کومه زه رضوانه
مينه دروغ دروغ يې وعدې دی انديواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ښه مست خمار ګرځېدم
لکه چینار ګـــــرځېدم

چې جیب مې ډک وو صیبه
د ډېرو یار ګـــــــرځېدم

غربت بې لارې کړمه
کنه په لار ګــرځېدم

د کور او کلي غـــم ته
هر وخت تیار ګرځېدم

سخته کې یوازې پرېخودم
له هرچا جار ګـــــــرځېدم

رضوان به تل نشه وم
په هر معیار ګرځېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې زه درنه دیدن غواړمه ماته کړې بهانې
رقیب ته یې ولاړه هـــره ورځ د بام په سر

رباب مې خرسومه کاتکي ټوپك پرې اخلم
رقیب او جانان ولمه جوړه په دا ټټر

رضوانه یارانو کې خو مو هیڅ ګټه ونکړه
یاران راټولومه ځو ډیر لرې په چکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ربه زړه مې راتنګ شوی ربه زما دې زړه قرار شه
ربه ستا عاجز بنده یم ربه تــــــه مې مددګار شه

ربه زه په ډېرو هیلو یمه ستا در ته راغلی
ربه ته زما دې تورو تورو شپو لره سهار شه

ربه شمه زه قربان ستا له راکړو نعمتونو
ربه ستا شکر ګذار یم ربه ته زما دلدار شه

ربه ستا د دین دعوت ته راوتلی خه ډاډه یم
ربه مل می د سختیو زما مل په هره لار شه

ربه ته د لیوني رضوان هر درد لره دوا شه
ربه دا دنیا زه نه غواړم په هغه دنیا مې یار شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د رڼاګانو دغه ښار راته دا زړه خوږین کړی
قسم په خدای مطلبي یار راته دا زړه خوږین کړی

چیرته به زه ستا په وعدو بیا اعتبار ونکړمه
لالیه هر وخت انتظار راته دا زړه خوږین کړی

منافقت کوي زمـــــا او د جانان په منځ کې
دا بې غیرت دوس ریبار راته دا زړه خوږین کړی

له مور او پلاره لــــه خپلوانو او له کلي لرې
مسافرۍ کې پردي کار راته دا زړه خوږین کړی

مرګه راځه کنه همدغه ښه موقع ده درته
ددې دنیا خلکو تیار راته دا زړه خوږین کړی

رضوانه بد او بې وفایي خو یې لاځه کړې څه کړې
د دغه چـــم دا وفادار راته دا زړه خوږین کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

که ژوند راسره لږ غونډې وفا وکړه لالیه
وعده که تا له ما سره رېښتیا وکړه لالیه

چشمانو ته راوړمه ستا رانجه له کوه قافه
که یوځلې دې په مړو سترګوخنداوکړه لالیه

جیګه نری پزه یې ده غټې غټې سترګې
ریبار راته کیسه شپې ستا وکړه لالیه

شونډې په شونډو راته کېښودې پرون
روژه کې یې په ما غټه ګناه وکړه لالیه

ربه لیونۍ یـــــې کړې زما د زوی په شان
مور مې په لمانځه درته ښیرا وکړه لالیه

په نیمه لار دې پرېښودلو یاره مطلبي
رضوان سره دې ډېره ناروا وکړه لالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خیر دی پرېږده ما خفګانه سرخوړلیه
څنګه پوره نشوې ارمانه سرخوړلیه
یارانه ده مړه جنګ په کې راځي
ګیلې څه ته کړې جانانه سرخوړلیه
تا خو زه یمه نور خیر ته کینولی
بنګړي مه غواړه له مانه سرخوړلیه
چې زما نشوه بوډا ته یې بیا ورکړه
ای زموږ د کلي خانه سرخوړلیه
چې په مینه کې دې ماتې وخوړله
بیا نشې مه کړه ای ځوانه سرخوړلیه
هرڅه هیر شو رانه یو ته نه هیریږې
اخري ځل خدای پامانه سرخوړلیه
ځنکدن کې دې پوښتنه هم ونه کړه
رضوان لاړه له دنیا نه سرخوړلیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تمام رنګونه مې په لاس کې غله دي
ژوند که د هـــــــرې پرې چال کوي

هغه چې موږ ته د ېر اشنا ښکاري
په مونږه څه نـــا آشنا خیال کوي

درد به اخر له مانه څه جوړوي
چی سه هنر بـــه دا کلال کوي

رضوانه زما بربادي خوند وکه
هغه افسوس زما په حال کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لیونی زړه مـــــــې په نه خبره وران دی
موده وشوه چې په یوه دوه کې حیران دی

له تمامې ښارېې ځینـــــــې خپه دی
له دې واړه انسانیت نه پښیمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

نه مې په غم غمجن وه نه يې کړو پرسان خدايه
څومره په زړه کلـک دې راکړی ده جانان خدايه
د هېـريدلـو چــل يې ماته را زده کړی نه وو
نور يې په ځان وم مېين کړی ډېر بې شـان خدايه
هره خـبـره هر يو کـار يې تـر مـطلبه وو بس
لکه يـــوســف يې پـريښـودم په بيابان خدايه
ډاکـــتـــره ومــنـــه د زهـــرو ستـــن راولګوه
هـــسې هـــم يــمـــه زه د ويــنـې سرطان خدايه
چې يې ريښې ريښې ګـــريـوان په لاره ووينمه
ورولې ربــه په رضوان پسې ارمـــان خدايه
د زنده ګۍ چارو کې داسې يـــــم روان خدايه
منزل مې ورک دی پاتې کېږم له کاروان خدايه
هو ستا بنده يم هـــو شکر عبادت دې کوم
خو نور يم واړه انسانيت نه پښېمان خدايه
زمــــــــا رحيمه خدايه وا زما کريمه خدايه
خپله مې وينې نور په ما شې مهربان خدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غربت مې ژوند لکه د تور ماښام په شان راتنګ کړه
د مخکې تګ لپاره شاته یــــــــــــم روان خدایه
منم چې رب یې زما ته مې په هر څه پوهیږې
په رضوان رحم وکه ته یـــــې که ودان خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نن بیا د مینې ورځ ده او نن بـیـا په چا ماتم ده
نن بیا زړونه مات شوي دي راغلی پرې ستم ده

د مینې محبت فلسفه کفر ورتـــه ښکاري
د ژوند او د جنون فلسفه کبر ورته ښکاري

ارمان یـــــــــې بایلوی د ژوند تورو تیارو کې
ددغې زمانې خلکو کې اوس مکر ورته ښکاري

دا چا چـــــــې دردولی همهغه بنې ادم دی
نن بیا د مینې ورز ده او نن بیا په چا ماتم ده

ارمان یـــــــــې بایلولی دی له ټولو مرور دی
ته دغه سړی وینې در په در خاورې په سر دی

یوې لیونۍ مینې پرې جهان دی پرېښی
په غرونو کې اوس ګرځي له جهانه مسافر دی

د سوز او د فریاد ټپې کوي په زړه یې غم دی
نن بیا د مینې ورز ده او نن بیا په چا ماتم ده

نن بیا د مینې ورځ ده څو دردونه جوړوم خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوښکو سره یو ځای سو ګیلې راټولوم خو
له پاك الله نه ښه ژوند درته غوارمه شیرنې
یو څو ګود مات بیتونه په ډالۍ کې درلیګم خو
د بل چا زرګی مات نه کړې په خدای دا کار ناسم دی
نن بیــــــا د مینې ورځ ده او نن بیا په چا ماتم دی
نن بیــــا د مینې ورځ ده دي دردونه فریادونه
د چا لاس کې پرهر دی او د چا لاس کې اهونه
یو چا ارمان بایللی دی لړ لرې غوندې ناست دی
خو د چا لاس کې غاټول دی او د چا لاس کې ګلونه
رضوان لیونی ګوره جدا شـــــوی له صنم دی
نن بیا د مینې ورځ ده او نن بیا په چا ماتم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نظم

## بنګړیواله

د کابل ښار په دوهمه چهار راهی کې
تیریدلم ناڅاپي مې ورته پام شو
یوه پیغله دې ګلاب تر ګل نازکه
غونډه منډه په کمپله کې وه تاوه
له یخنې یې زنې دواړه کړپیدلې
او له غټو غټو سترګو یې ملغلرې توییدلې

یو وړه د اوړو بوجی یې هواره کړی
پری درجن درجن بنګړي له پاسه ایښي
په واورینه ځمکه دا وه ورته ناسته
ور روان شوم چې پوښتنه ترینه وکړم
د ژړا علت یې څه دی ولې ژاړې
او له کوم غم سره دا لاس او ګریوان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ د ټوکو په انداز مې ورته ویل
بنګړیوالې بچیش ښې مزې دې وکړې
په یخنۍ کې هم خپل کار ته یې راوتې
د زرغون کمیس لستوڼی
یې ورجیګ کړ اننګو ته
اوښکې یې پاکې کړې مسکۍ شوه
ځوانه څه دي او څه غواړې

ما ویل هېڅ مې پکار نه دي
خو مورکۍ ته به بنګړي درنه لږ ویسم
خو اول به راته وایې ولې ژاړې
بیا مسکۍ شوه ویل یې چپ شه
راته وایه له کوم رنګه بنګړي درکړم
الله ﷻ لوی دی غمشریک مې هم هغه دی

ډېرر شله شوم ما ویل ټول بنګړي دې اخلم
خو فقد دا راته ووای ولې ژاړې
لږ وخت غلې وه شروع شوه ویل یې واوره

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپږم کال دی دغه ځای کې
دا بنګړي دي خرڅوم یې
خو تر اوسه رانه هیچا دا پوښتنه ونه کړه
چې هر ځوان او سړی راشي
د جنسي خواهش غوښتنه رانه وکړي

ما ویل خیر ده خپه نشې
زه له هغه خلکو نه یم
ستا د زنې کړپیدو او ژړا راوستلم دلته
ویل یې نه نه زما وروره دا دنیا ده
په کې هر رنګ خلك شته دي
خو د ژوند کیسه مې واوره

زه د دولسو کلو وم
کور کې مشره ومه ځکه
نازولې د مور پلار وم
خپل مکتب ته به ورتلمه
ښه لایقه اول نمره وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ له مکتب راغلم
کور کې شور وو او غوغا وه
ژړاګانې وې د ښځو زړه مې ولوید
د بدن ویښتان مې جیګ شول
دروازې مخکې موټرې وې ولاړې
ور داخل شومه خپل کور ته
دوه کټو کې تابوتونه جوړه ایښې
ما ورمنډه کړه چې ګورم
یو مې پلار وه بل مې مور وه
کیسه لنډه درته کومه
په چاودنه کې دوی مړه شول
مکتب پاتې شو له مانه
څلور خویندی دوه مې ورونه
راترغاړې دي ورور جانه
دلته هره ورځ راځمه
چې ماښام یو مړی رزق ورته یوسم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوففف رضوانه

بنګړیوالې له دنیا نه زړه راتور کړه
بنګړیوالې له هر چا نه زړه راتور کړه
بنګړیوالې له خندا نه زړه راتور کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نظم

ټولګیواله !څه کیسې دي پوهنتون کې
اوس اول تشریح ته څوك اوچتوي لاس
خاموشي ده که شور هغسې لاجوړ دی
او دا ستاسې منځ کې څوك اول نمره دی
هو ریښتیا دوهم نمره او دریم څوك دی
د انا تومي استاد اوس هم غوصه وي
که په زړه یې څه د رحم اوبه توی دي
په چپنو کې نازکې جینکۍ به
په انګړ کې بیخي نه تر ستر ګو کیږي
ټولګیواله تاته شته د بیلتون پته
د کتاب نه لیرې والی مې زړه وژني
لکه مور نه چې د غیږې ماشوم واخلې
لور په لور وهي بچي پسې کوکارې
او په ژوند یې بیخي نه ورځې نور لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولګیوله جهالت د څـــو سږیو
پر مرۍ د ولس ناست لکه خپسه
د سپېڅلیو هیلو لارې یـــــــې ترلي
غواړي ژوند لکه تیاره کړي د خپل فکر
له نازکو پسرلي پسرلۍ نجونو
احترام غواړي د خپلو بدرنګیو
ډاروونکي په تذلیل د ولس روږدي
څو سړي لکه زومبیان لکه بګوې

ټولګیواله څه کیسې دي پوهنتون کې
زما ژوند خو اوس بیخي په بله واوښت
دریم کال دی کتابونو نه یم لرې
چپترونو مې نیولي دي ګردونه
د قلم او کتابچې په ځای مې لاس کې
یا جارو وي یا خمځه یا رپیده وي
زړه مې تنګ دی بیخي ډیر دننه کور کې
خپل زحمت او خپل درسونه چې رایاد کړم
زه یې کوم کوم حالتونه درته یاد کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نېږدې به شوې زمونږه ازموینې

تیروله به مو شپه تمولمه په وینبه

ته فارغ شوې ارمانونه دې پوره شه

د خپل ژوند دا شان شوکت دې مبارك شه

ټولګیواله فراغت دې مبارك

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

د جمعې ورځ وه مبارکه چې اذان یې وکړه

ویل یې لمانځه ته راش پسې بیان یې وکړه

ما اودس وکوو په منډه منډه

بیا ور روان شوم دې مسجد په لوري

ورغلم دوه رکعته لمونځ مې وکړه

ملا صیب پورته کړل لاسونه دواړه

یو دمي چیغې شولې بم والوته

سترګې مې پټې شوې بې هوښه شومه

په ځان خبر نه وم چې څه شوي دي

چې کله سترګی می راوغړیدې

لږ شانتې ساه راکې راوغوړیده

په یوعاجل اطاق کې پروت ومه زه

خواکې مې نور زخمیان کټو کې پراته

دچا پښه نه وه لاسونه نه وه

ځان ته مې هیڅ نه کتل حق حیران وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله ما خپل ځان ته وکتلې
له دې دنیا نه مې زړه تور شو خدایه
دواړه پښې یې راپرې کړې ولې
تخت کی بیهوشه شوم بیا پوه نه شومه
څو ورځې بعد چې په هوش راغلمه
سر ته ولاړ ډاکتر مې وویل چې
مړه یو کم څلویښت کسان شهیدان
شکر الحمدالله ته لا بلا ښه یې
ته خو ژوندی یې یو پښې دې نشته
چې ته په وخت مونږ ته راورسیدې
کنه ته هم وې څلویښتم شهید
رضوان ویلي چې ارمان خدایه
چې بې پښو ژوندون به څنګه وکړم
زموږ دوه دانی پښې دي په موږ سه وطن اباد وه
دا وطن دی سر پا وی دښمنان یې بیخي زیاد دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

د شپې ناوخته وخت وه
۲ نیمې ۳ بجې وې
سلام مې وګرزو
لاس مې دعا ته جیګ کړه
بیخي سکوت غالب وه
د ساعت ټك ټك به مې
د سر ماغزه خورول
لګ مې دقت وکوه هوا بیخي یخه وه
بحر توغل شروع وه ورسره واوره هم وه
لړیا شوم ځانه سره
ما ویل رضوانه یاره
د واورې هاغه خوند وه
لکه په واورې باندې
کله ما هغه ویشتله
کله یې زه ویشتلم
کله مو یو بل څخه
په سرکونو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډې را منډې وهلې
لکه نشه چې وو موږ
داسې خندام کوله
واورین سړی مو جوړ کړه
ما په هغې تشبیه کو
هغې په ما تشبیه کو
هغې ویل تا غوندی دی
ما ویل هغې غوندې دی
لږ مروره شوله
ویلی زه لاړم درنه
ته هم ابلې سره په سرکه کې کینه
په همدې سوچ کې یو دم
له سوچ مې خیز ووهه
په همدې وخت کې مې چې
خپل جانماز ته پام شو
خیال نه را ووتلم
سه بې اختیاره غوندې
د جانماز سر ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړغوني غږ کې
دا زمزمه مې وکړه چې

ما په تهجدو کې له خدای غوښتې
خو کبرجنه یاره دعا مې قبوله نه شوه

که په تهجدو او لمونځو وای
اوس به زما په نامه ښار کې یادیدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د باران غږ مې په عذابې تا را يادی
خفه موزيك او نيمه شپه مې ځوری
تا رايادی
چـــــې وينم په سرك زه دوه ميينان يو ځای
زه يې نه ښنم په درد مې مالگه تويوي تا رايادی
د باران غږ مې په عذابی تا را يادی
د شپې شبگير شـــم خوب حيران كړم سهار كار ته لاړشم
خوب مې په كار كې ډېر تنگی زړه مې گرموي تا رايادی
د باران غـــــږمې په عذابی تا را يادی
چی لږ بيرون ته يمه ښه يم گوزاره كومه
چې كور ته راشم ميخانه مې يادی درد مې يادی تا رايادی
د باران غږ مې په عذابی تا را يادی
د شپې يوې بجې نه ستا غم سره لاس گريوان يم
سهار مې مور ملامتی بيچارگی خپه كی
د باران غږ مې په عذابی تا را يادی
رضوان بيخي ناهيلی شوی يم له ژونده پخدای
چې نه وينمه په كې ستا سترگې او بانه ليونۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د باران غږ مې په عذابی تا را یادی
ته ښه بیغمه گرزه ژوند نه دې خوندونه اخله
رضوان نیازی دې په یوه یوه لحظه کې یادی رب ته یادی
د باران غږ مې په عذابی تا را یادی

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**